مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۳۴** (از ۲۱ الی ۳۰ سنبله ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........ ۲

**د طالبانو یووالی؛ پر سوله او جګړه یې اغېزې........ ۳**

- شالید........ ۳
- د ملا محمد عمر د مړيني افشا کولو اهداف........ ۴
- د جګړې په ډګر د طالبانو د اختلافاتو اغېزې........ ۵
- آیا د طالبانو خپلمنځي اختلافات ختم شول؟........ ۶
- د طالبانو اتحاد او پر روان وضعیت یې اغېزې........ ۷

**حکومت و جنگ در دو جبهه........ ۸**

- پیشینهٔ فرار طالبان از زندان........ ۹
- حربه‌های جنگ طالبان........ ۹
- ترک صفوف نیروهای مسلح........ ۱۰
- دلیل ضعف در میدان جنگ........ ۱۱

**په اسلام‌آباد کې د افغانستان-پاکستان پر اړیکو دوه ورځنی کنفرانس........ ۱۳**

## مقدمه

د ملا محمد عمر کورنۍ د طالبانو له نوي مشر ملا اختر محمد منصور سره بیعت وکړ او په دې توګه د طالبانو د رهبرۍ له بدلېدو وروسته د دوی په لیکو کې راټوکېدلي اختلافات ورو ورو د هواري په لور روان دي. دا چې د جګړې په ډګر د طالبانو اختلافاتو ځومره اغېز وکړ او د دوی ترمنځ د خپلمنځي اختلافاتو ختمېدل به په روان وضعیت او د سولې په خبرو څه اغېزې ولري، په دې تحلیل کې بحث پرې کوو.

ورپسې د حکومت له وسله والو مخالفینو سره په جګړه کې د ملي وحدت حکومت پر وضعیت او د غزني له زندانه د سلګونه بندیانو د تېښتې په اړه لولئ. په تېرو کلونو کې هم ډېر ځله طالبانو خپل زندانیان د افغان حکومت له زندانونو څخه په ډله ییزو ډول خوشي کړي دي، چې د دې لړۍ وروستۍ پېښه تېره اوونۍ په غزني کې وشوه. طالبانو له غزني زندان څخه شاوخوا ۴۰۰ بندیان د یوه برید په پایله کې وتښتول. دلته د طالبانو پر جګړهییزو تګلارو، د حکومت په امنیتي ارګانونو کې اداري فساد او د دارنګه پېښو پر عواملو بحث شوی.

د تحلیل په وروستۍ برخه کې د «افغانستان-پاکستان: ایډیال دوه اړخیزو اړیکو په لور» تر عنوان لاندې د ستراتېژیکو او سیمهییزو څېړنو مرکز او په اسلامآباد کې د پالیسۍ د څېړنو انستېتیوت له خوا د ګډ کنفرانس راپور لولئ.

# د طالبانو یووالی؛ پر سوله او جګړه یې اغېزې



تېره اوونۍ د طالبانو د پخواني مشر ملا محمد عمر کورنۍ د طالبانو له نوي مشر ملا اختر محمد منصور سره بیعت وکړ. له تېرو دوو میاشتو راهیسې د طالبانو په لیکو کې د اختلافاتو خبرونه اورېدل کېدل، چې له ملا اختر محمد منصور سره د ملا محمد عمر د کورنۍ بیعت تر ډېره دغو اختلافاتو ته د پای ټکی کېښود.

د طالبانو له نوي مشر سره د ملا محمد عمر د کورنۍ د ملاتړ له اعلان وروسته، د سولې عالي شورا هیله‌مندې وښوده چې له دې سره به طالبان یو ځل بیا د سولې خبرو اترو ته مخه کړي. طالبانو هم له خپل نوي مشر څخه د پخواني مشر ملا محمد عمر د کورنۍ پر ملاتړ له دې کبله خوښي وښوده، چې د طالبانو له نوي رهبرۍ سره د راټوکېدلو اختلافاتو له کبله د دوی یووالي ته ډېر زیان ونه رسېد.

دا چې ورو ورو د طالبانو خپلمنځي اختلافات له منځه ولاړل، دا چاره به د روانې جګړې پر وضعیت او د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د روغې جوړې پر بهیر څه اغېزې وښندې؟

## شالید

ولسمشر اشرف غني له واک ته رسېدو سره سم، پاکستان ته له دې کبله ډېر امتیازات ورکړل، چې پاکستان افغان طالبان د افغانستان له حکومت سره د خبرو اترو لپاره چمتو کړي. د دې ترڅنګ کابل له نوي ډېلي سره

هم په خپلو اړیکو کې له احتیاط څخه کار واخیست، ترڅو پاکستان ونه پارېږي. د پاکستان حکومت او پوځ هم په پیل کې یو شمېر داسې تودې ژمنې ور کړې، چې وروسته یې د عملي کولو توان نه درلود. له همدې کبله پاکستان د افغان حکومت او نړیوالو تر فشارونو لاندې د چین په اړومچي کې یو شمېر طالبان له افغان حکومت سره د خبرو اترو مېز ته کېنول، چې د طالبانو د رهبرۍ له خوا د طالبانو د رسمي استازو ګډون پکې رد شو.

د اړومچي له غونډې وروسته پر پاکستان د افغان حکومت فشار لا زیات شو او افغان حکومت غوښتنه کوله چې پاکستان باید د طالبانو رهبري شورا له افغان حکومت سره خبرو ته چمتو کړي. له بله پلوه په مشخصه توګه د طالبانو د سیاسي دفتر د مشر طیب آغا اختلافات هم له پاکستان سره زیات شوي وو او د پاکستان تر فشارونو لاندې یې له افغان حکومت سره خبرې اترې نه غوښتې، چې په دې توګه ورو ورو د طالبانو اړیکې هم له پاکستان سره مخ په خرابېدو ولاړې. همدا لاملونه وو، چې پاکستان پر طالبانو کړۍ راتنګه کړه، فشارونه یې پرې زیات کړل او په پای کې یې د همدغو فشارونو د کمولو لپاره د اسلام‌آباد مري غونډې ته خپل استازي ولېږل؛ خو شرط یې دا و، چې خبرې به پټې ساتل کېږي.

د پورتني شرط ترڅنګ، طالبانو د قطر دفتر غړي هم له دې امله د اسلاماباد غونډې ته ونه لېږل، چې که د افغان حکومت او طالبانو دا مخامخ خبرې اترې افشا شي، نو طالبان به د تل په څېر ووايي، چې د خبرو اترو واک یوازې د قطر له دفتر سره دی او که په دا ډول خبرو اترو کې د قطر دفتر پرته نور څوک برخه واخلي نو دا به یې شخصي هڅې وي.

له بلې خوا، له پاکستان سره د قطر دفتر او طیب آغا اختلافاتو ته په کتلو سره، د طالبانو د رهبرۍ شورا غړي په دې پوهېدل چې د قطر دفتر په دې خبرو کې برخه نه اخلي؛ نو ځکه یې د پاکستان د فشارونو کمولو لپاره د مري په خبرو کې ګډون وکړ او وروسته یې خپل ګډون په صراحت سره رد هم نه کړ.

## د ملا محمد عمر د مړینې افشا کولو اهداف

د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ په مري کې د سولې له خبرو اترو وروسته، افغان حکومت د پاکستاني چارواکو د باوري معلوماتو پر بنسټ د طالبانو د مشر ملا محمد عمر د مړینې خبر رسما خپور کړ. د دغه خبر خپراوي د سولې خبرې اترې په ټپه ودرولې او لاهم دا پوښتنه مطرح ده، چې په داسې حساسو شرایطو کې ولې دا خبر د

پاکستان له خوا افغان حکومت ته ورکړل شو، د افغان حکومت له خوا خپور او د طالبانو له خوا تایید شو؟ ځینې لاملونه یې په لاندې ډول بیانولی شو:

1. افغان حکومت گومان کاوه، چې دا خبر به تر ډېره د طالبانو مورال کمزوری کړي، وحدت به یې اغېزمن او د سولې پروسه به گړندۍ کړي. ترڅنگ به دا د حکومت برې هم په ډاگه کړي؛ خو عملا پایله د حکومت د اټکل خلاف شوه.
2. پاکستان دا خبر داسې مهال افغان حکومت ته افشا کړ، چې تر ډېره د افغان حکومت او نړیوالو تر فشارونو لاندې وو او له طالبانو سره یې هم اختلافات په ډېریدو وو. له همدې کبله یې له یوې خوا غوښتل چې دغه پروسه وځنډېږي او یا خپلې هغه تودې ژمنې چې له افغان حکومت سره یې کړې وې، جبران کړي او د ملا محمد عمر له مرگ سره هر څه ختم شوي وبولي. له بلې خوا یې غوښتل طالبانو ته هم څرگنده کړي چې کومه خبره چې دوی په خپلو کې پټه ساتلې، دوی لاسرسی ورته لري او په قوت سره یې افشا کولی شي.
3. طالبانو ته هم نوره ستونزمنه وه چې له دوو کلونو وروسته هم د ملا محمد عمر مړینه پټه وساتي؛ ځکه له دې وړاندې هم د یو شمېر رسنیو او له طالبانو یوې جلا شوې ډلې (فدایي محاذ) له خوا د ملا محمد عمر د مرگ اوازې خپرې شوې وې. د طالبانو په لیکو کې هم ډېرې پوښتنې او شکونه راپورته کېدل او د ملا محمد عمر د غړیز پیغام غوښتنه یې کوله. د دې ترڅنگ د پاکستان تر فشار لاندې د سولې پروسې ځنډول هم طالبانو ته یوازې د همدغه خبر په تاییدولو سره ممکن وو.

## د جگړې په ډگر د طالبانو د اختلافاتو اغېزې

د ۲۰۱۵ کال د جولای په ۳۰مه نېټه د طالبانو له خوا د ملا محمد عمر د مړینې له تایید وروسته د طالبانو د نوي مشر ملا اختر محمد منصور د مشرۍ پر سر یو لړ اختلافات راپورته شول. په دغو اختلافاتو کې د ملا محمد عمر کورنۍ او د قطر دفتر مشر طیب آغا مخکښ کسان وو.

په هېواد کې دننه او بهر ډېرو رسنیو دغه اختلافات په ښه شد و مد سره خپاره کړل؛ خو دې ته یې پام نه و، چې اصلاً د طالبانو په وروستیو پنځو کلونو کې تر ټولو زیات رول د ملا اختر محمد منصور و. همدی و، چې د قطر د سولې خبرو اترو بهیر یې پیل کړ او همدی و، چې په وروستیو پنځو کلونو کې یې په نېغ ډول له طالب

قوماندانانو سره اړیکه وه. همدا بیا د دې لامل شول، چې د هېواد د ۳۴ ولایتونو طالب والیان او ډېری قومندانان له ملا اختر محمد منصور سره بیعت وکړي.

دلته باید په یاد ولرو چې د طالبانو اصلي ځواک د دوی د جګړې د ډګر جنګیالي دي، ترڅو چې دوی د طالبانو په لیکو کې وي او ترڅو چې په طالبانو کې دا برخه په اتفاق کې وي، تر هغې به جګړه توده روانه وي. له همدې ځایه ده چې دغه حقیقت ملا اختر محمد منصور درک کړ او د ځواکمنې حقاني شبکې مشر سراج الدین حقاني یې خپل مرستیال وټاکه.

په بل اړخ کې د طالبانو له لیکو څخه چې څومره سیاسي کسان هم بېل شوي، دوی بیا د طالبانو پر نظامي ځواک او جګړه اغېزه نه ده کړې. د بېلګې په ډول د معتصم آغا جان او نورو طالب مشرانو جلا کېدو د طالبانو پر جګړې کومه اغېزه ونه کړه؛ بلکې جګړه نوره هم توده شوه. همدا راز د ملا محمد عمر د کورنۍ او طیب آغا له خوا راپورته کېدونکو اختلافاتو هم د دوی پر جګړې اغېزه ونه کړه، بلکې له دغو اختلافاتو وروسته هم، په کابل کې ډېرې چاودنې وشوې، په شمال کې هم جګړې زور واخیست او په جنوب کې هم ستراتیژیکې ولسوالۍ (د بیلګې په ډول موسی کلا) له سقوط سره مخ شوې.

## آیا د طالبانو خپلمنځي اختلافات ختم شول؟

د اختلافاتو له رامنځته کېدو سره سم، د طالبانو نوي رهبرۍ هڅه وکړه چې د خپلو پوځي قوماندانانو ملاتړ ترلاسه کړي او په دې توګه یې د خپلو ډېرو نظامي کسانو او والیانو ملاتړ ترلاسه کړ. د دې ترڅنګ یې د ملا محمد عمر د کورنۍ د ملاتړ ترلاسه کولو په موخه یو شمېر پلاوي هم ولېږل. د ملا محمد عمر کورنۍ هم، وروسته له دې چې ټولو نظامي خلکو له نوي مشر سره بیعت وکړ، دوی هم خپل ملاتړ له ملا اختر محمد منصور څخه اعلان کړ او نور هغه مخالفین یې هم له نومورې سره بیعت ته راوبلل، چې د دوی له کبله یې خپل بیعت ځنډولی و.

د دې ترڅنګ د یوه خبر له مخې د طالبانو مشرتابه قطر ته هم یو پلاوی استولی، چې له نوي مشر څخه خپه شوی طیب آغا بېرته په خوله کړي. که د طالبانو مشرتابه پر دې وتوانیږي، چې طیب آغا بېرته راضي کړي او بالاخره دغو سیاسي اختلافاتو ته د پای ټکی کېږدي، نو دا به د طالبانو لپاره په دې وروستیو کې تر ټولو غټه سیاسي لاسته راوړنه وي.

## د طالبانو اتحاد او پر روان وضعیت یې اغېزې

له ملا اختر محمد منصور سره به، د ملا محمد عمر د کورنۍ بیعت د طالبانو پر لیکو او د سولې پر پروسه لاندې اغېزې ولري:

1. د طالبانو د نوي مشر مشروعیت به زیات کړي؛
2. د طالبانو صف ته د ملا محمد عمر د کورنۍ بېرته راتګ به د طالب جنګیالیو مورال لوړ کړي؛
3. اصلاً د سولې پروسه ملا اختر محمد منصور پیل کړې وه؛ خو د ملا محمد عمر د مړینې له اعلان او د امیر په توګه له غوره کېدو سره سم یې دغه پروسه د «دښمنانو تبلیغات» وبلل. البته هغه مهال د دغې وینا موخه د طالبانو د نظامي برخې ملاتړ ترلاسه کول وو. اوس چې ملا اختر محمد منصور په تدریج سره د طالبانو د یوه منلي مشر په توګه مطرح کېږي او ورسره د ملا محمد عمر کورنۍ هم بیعت وکړ، نو دی به د دې وړتیا ولري، چې په زړورتیا سره د سولې په پروسه کې د یو ځل بیا لپاره دننه شي. البته دا به یو څه وخت واخلي او د سولې پروسې ژر پیلول به لږ څه ورته ستونزمن وي.
4. که د طالبانو له یوې برخې سره سوله وشي او یوه بله برخه د سولې له خبرو بهر پاتې شي، نو دا به په هېواد کې ریښتینې سوله رانه ولي، بلکې په ریښتینې توګه سوله به هغه مهال راشي، چې د طالبانو له یووالي وروسته له هغوی‌سره خبرې اترې وشي.
5. طالبان به د پخوا په څېر له خپلو اساسي شرایطو څخه پر شا نه شي. دوی به تر هغې خپلې جګړې ته دوام ورکوي، ترڅو چې بهرني ځواکونه په افغانستان کې مېشت وي او اوسنی اتحاد یې دغه کار ته نور هم هڅوي.
6. که چېرې طالبان له افغان حکومت سره خبرو اترو ته چمتو هم شي، نو په خبرو اترو کې به له یوه قوي دریځ سره دننه شي.

پای

# حکومت و جنگ در دو جبهه



هرچند مقامات امنیتی کشور همیشه بر آمادگی‌های لازم برای مقابله با ناامنی‌ها تاکید دارند، اما فرار صدها زندانی از زندان ولایت غزنی آنهم از راه حملۀ گروهی و درگیری نظامی که به ساعت‌ها به طول انجامید، نشانۀ آشکار از بی مهار شدن ناامنی‌ها در افغانستان و ضعف نیروهای امنیتی است.

این نخستین باری نیست که طالبان موفق می‌شوند تا جمع کثیری از یاران در بند خویش را از زندان برهانند، ولی آنچه که در عملیات اخیر آنان از گذشته متفاوت بود، طرح دقیقی بود که آن‌ها برای حملۀ مستقیم ریخته بودند و در نتیجه با کمترین تلفات به هدف خویش نایل آمدند.

اگر همۀ کار در برنامه‌ریزی و توان رزمی طالبان خلاصه می‌شد، جای نگرانی زیاد وجود نداشت اما نگرانی بیشتر از این است که مشخص می‌شود دست‌های پنهان در داخل نیروهای نظامی کشور، در کار کمک به این ناامنی دخیل است و بخشی از زمینه‌سازی برای فرار را، همین دست‌های پنهان فراهم می‌سازند.

## پیشینۀ فرار طالبان از زندان

در ماه جون سال 2008 تعدادی از افراد مسلح طالبان به زندان قندهار حمله کردند. در ابتدا در ورودی زندان مورد حمله قرار گرفت و آن‌ها با کشتن محافظین، داخل محوطۀ زندان شده و حدود 900 زندانی را از زندان فراری دادند. طبق اطلاعات به دست آمده، 350 تن از فراریان از افراد مهم یا جنگجویان طالب بودند.

اما طالبان در سال 2011 با حفر یک تونل به طول حدود نیم کیلومتر، ریکارد جهانی در فرار از زندان از طریق تونل را به نام خود ثبت کردند و 475 زندانی را از طریق این تونل فراری دادند. آن‌ها این تونل را در مدت تقریبا چهار ماه حفر کرده بودند و تدابیر لازم از جمله رسانیدن آکسیجن به تمام تونل را از طریق پایپ انجام داده بودند.

در موارد دیگر نیز با طریقه‌های مختلف، آن‌ها تعدادی از زندانیان خود را از زندان آزاد نمودند، اما در حملۀ مستقیم به زندان غزنی که دوشنبه شب هفتۀ گذشته انجام گرفت، تمام زندانیان را که تعداد شان به حدود 400 تن می‌رسید آزاد ساختند.

## حربه‌های جنگ طالبان

جنگ طالبان فقط متکی به سلاح و رسیدن به هدف از راه زور نیست، بلکه در اکثر موارد آن‌ها از تاکتیک‌های دیگری نیز کار می‌گیرند که منابع امنیتی نمی‌خواهند در مورد آن روش‌ها سخن بگویند. دلیل این امر نیز این است که دولت نمی‌خواهد طالبان را چیزی بیش از یک گروه جنگی فاقد مشروعیت در میان مردم، بشناساند.

یکی از وسایل مهمی که طالبان از آن برای جلب حمایت مردم از خود به کار می‌گیرند، تبلیغات در میان مردم است. طالبان در تشکیلات خویش کمیسیونی بنام (جلب وجذب) دارند. افراد مربوط این کمیسیون به روستاها رفته و مردم را تشویق می‌کنند تا فرزندان خود را به سربازی نفرستند و باید اذعان نمود که در این کار دست‌آوردهایی هم داشته اند.

در سایت‌های رسمی طالبان در هر ماه تعداد افرادی که در نتیجۀ تبلیغ افراد این کمیسیون از صف اردو و پولیس ملی و پولیس محلی جدا می‌شوند با اسم و ولد و محل سکونت شان اعلام می‌شود که گاهی تعداد این افراد به صدها تن می‌رسد، اما هدف این کمیسیون تنها بیرون کردن افراد از صف دولت نیست. بخش دیگری از کار این

کمیسیون جلب و جذب و استخدام کسانی است که در داخل نیروهای مسلح افغانستان خدمت می‌کنند تا در صورت ضرورت، با طالبان همکاری نمایند.

این‌ها واقعیت‌های جنگ افغانستان است که در طول 35 سال گذشته بارها تجربه شده، اما با توجه به شرایط خاص موجود در کشور و افزایش میزان نارضایتی مردم از دولت به خصوص به دلیل فساد اداری، کار طالبان در جلب و جذب و تشویق سربازان برای ترک خدمت آسان‌تر شده است. استفاده از پول نیز به عنوان یک مشوق برای جلب سربازان وافسران برای همکاری با مخالفین مسلح دولت کارآمد است. فساد در دستگاه حکومت تنها در بخش ملکی منحصر نیست، بلکه در میان افسران نظامی نیز به شدت رایج است.

در جریان شکسته شدن زندان غزنی منابع امنیتی کشور امکان همکاری دست‌هایی در داخل نیروهای انتظامی با طالبان را رد نمی‌کنند و سخنگوی وزارت داخله از دستگیری شماری از افراد پولیس در این ماجرا سخن می‌گوید.

## ترک صفوف نیروهای مسلح

اگر بخواهید در انترنت در مورد اردوی ملی افغانستان معلومات به دست آورید، معلومات مفصلی همراه با عکس و ویدیو وجود دارد که سربازان را با یونیفورم‌های مناسب و افسران را با یونیفورم‌های نمایشی و شیک در ساختمان‌های لوکس نشان می‌دهد. ساختمان وزارت دفاع افغانستان که از آن بنام پنتاگون کوچک نیز نام برده می‌شود، ظرفیت صدها کارمند را دارد. این ساختمان که به هزینۀ 160 ملیون دالر اعمار گردیده، 2500 کارمند را در خود جا خواهد داد. تنها مصارف موبل و فرنیچر و تکنالوژی معلوماتی آن به حدود پنجاه ملیون دالر تخمین می‌شود.

اما در عقب این ظاهر پرزرق وبرق، حقایق تلخی وجود دارد که هم خارجی‌ها و هم حکومت افغانستان سعی در پنهان کردن آن دارند. مهمترین مشکل، ترک خدمت در میان سربازان نیروهای مسلح کشور است.

هرچند ارگان‌های مربوط در مورد میزان ترک خدمت در میان پرسونل نیروهای مسلح کشور آمار دقیقی به دست نمی‌دهند، اما بعضی از منابع دیگر در این مورد گزارشات تکان دهنده‌ای به دست نشر سپرده‌اند.

بنا بر یک گزارش از طرف (سیگار) که در مورد مصارف امریکا در افغانستان تحقیق می‌نماید، از ماه جنوری 2013 الی جنوری 2014 یعنی در مدت یک سال، 40 هزار تن از نیروهای رزمی افغانستان وظایف خود را ترک کرده‌اند. این‌ها افرادی اند که برای آموزش شان از جانب امریکا مبالغ هنگفتی به مصرف رسیده بود.

هرچند در آن زمان وزارت دفاع افغانستان این گزارش را رد کرد و این آمار را نادرست و ناشی از اشتباه تخنیکی خواند، اما اینکه هر مقام امریکایی بعد از سفر به افغانستان، بر دوام حضور نیروهای امریکایی در افغانستان تاکید می‌نماید، نشان از همین مشکل دارد. بعضی از این مقامات حتی هشدار داده‌اند که اگر نیروهای خارجی افغانستان را به صورت کامل ترک کنند، شاید تمام دست آوردهای امریکا در افغانستان از دست برود.

محمد عمر داودزی وزیر پیشین داخلهٔ افغانستان با صراحت بیشتر در این مورد سخن گفت. وی همین چند روز قبل در تیوتر خویش از کاهش روز افزون نیروی انسانی در نیروهای دفاعی و امنیتی کشور ابراز نگرانی نموده و آنرا (زنگ خطر) برای افغانستان دانست و از رئیس جمهور افغانستان خواست تا به عنوان سرقوماندان نیروهای مسلح کشور، در این مورد وظیفهٔ خود را درک نماید.

## دلیل ضعف در میدان جنگ

یکی از دست‌آوردهای نظام جدید بعد از سقوط حکومت طالبان، به میان آمدن اردو و پولیس ملی در افغانستان است. در ابتدای کار و پس از کنفرانس بن اول قرار بود تا افغانستان دارای یک اردوی هفتاد تا هشتاد هزار نفری باشد، اما بعدا با توجه به چالش‌های امنیتی، قرار شد تا این اردو از نظر کمیت به مراتب بیشتر و از نظر کیفیت نیز با سلاح‌های مدرن مجهز گردد. در بخش آموزش نیز برنامه‌های زیادی از جانب کشورهای مختلف روی دست گرفته شد.

امریکا بزرگترین تمویل کنندهٔ نیروهای امنیتی افغانستان در طول چهارده سال گذشته بود که صدها ملیارد دالر صرف تجهیز و آموزش این نیروها نمود. در اوایل جنوری 2013 شمار اردوی ملی افغانستان به 352000 نفر رسید که از نظر تعداد برابر به نیروهای مسلح پاکستان بود، اما اکنون به نظر می‌رسد که این اردو با این همه مصارفی که برایش صورت گرفت، جواب‌گوی نیازهای امنیتی کشور نیست و در بسیاری موارد پیشروی‌های طالبان به دلیل کمبود سرباز در محل درگیری قلمداد می‌شود.

اما پیروزی و پیشرفت در جنگ فقط نیازمند سرباز و سلاح نیست بلکه روحیهٔ سربازان حرف اول را در میدان جنگ می‌زند. سرباز افغان نیز به عنوان فردی از افراد این کشور، خواهان حکومت‌داری خوب و اطمینان از آیندهٔ بهتر برای خود، خانواده و فرزندان خویش است. در کشوری که خانواده‌های دولتمردانش در محیط امن خارج از کشور زندگی می‌کنند و در نظامی که فساد و چپاولگری در آن بیداد می‌نماید، چگونه می‌توان انتظار داشت که سربازش به خاطر چنین نظام جان خود را به خطر اندازد؟

پیشرفت در میدان جنگ در قدم اول نیازمند پیروزی در جنگ علیه فساد است و فساد پدیدهٔ شومی است که پایه‌های یک نظام را از دورن سست می‌سازد. روشن ترین نشانهٔ سست شدن پایه‌های نظام نیز خود را در روحیهٔ سربازان در میدان جنگ به نمایش می‌گذارد. اگر حکومت افغانستان در نبرد علیه فساد با ارادهٔ محکم به میدان نیاید و پیروز نشود، نباید هرگز به پیروزی در جنگ علیه مخالفین مسلح امیدی داشته باشد.

پایان

# په اسلام‌آباد کې د افغانستان-پاکستان پر اړیکو دوه ورځنۍ کنفرانس




په اسلام‌آباد کې د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز-کابل او د پالیسۍ د څېړنو انستېتیوت-اسلام‌آباد ګډ دوه ورځنی کنفرانس په بریالیتوب سره پای ته ورسېد.

دغه کنفرانس د «افغانستان-پاکستان: د ایډیال دوه اړخیزو اړیکو په لور» تر عنوان لاندې د سپټمبر پر ١٦ او ١٧مه نېټه په اسلام‌آباد کې جوړ شو، چې د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري پکې د مرکز رئیس دکتور عبدالباقي امین، د مرکز مرستیال ډاکټر وحیدالله مصلح، د علمي شورا غړو دکتور فضل الهادي وزین او انجنیر حامد دراني او د مرکز اجرائي مسؤول حکمت الله ځلاند ګډون کړی و. دغه راز په اسلام‌آباد کې د افغانستان د سفارت سکرتر احمد شاکر قرار هم د کنفرانس په دواړو ورځو کې حضور درلود.

د پالیسۍ د څېړنو انستېتیوت-اسلام‌آباد له خوا، په افغانستان کې د پاکستان پخواني سفیر رستم شاه مهمند، د پالیسۍ د څېړنو انستیتوت رئیس خالد رحمان، خالد اقبال، ډګرمن سید نذیر، په افغانستان کې د پاکستان پخواني سفیر ایاز وزیر، د پالیسۍ د څېړنو انستیتوت د څېړنو همغږي کوونکي عرفان شهزاد، د قائد اعظم پوهنتون استاد دکتور انوشاه او د دغه انستیتیوت څېړونکي معراج الحمید ګډون کړی و.

د کنفرانس له پیل مخکې په یوه جلسه کې اسلامآباد ته د ستراتېژیکو او سیمهییزو څېړنو مرکز د تللي پلاوي او د پالیسۍ د څېړنو انستېتیوت-اسلامآباد د مسؤولینو په ګډه غونډه کې د دواړو مرکزونو پر ګډو همکاریو او راتلونکو پروګرامونو بحث وشو.

د کنفرانس په افتتاحیه جلسه کې دکتور عبدالباقي امین او خالد رحمان د غونډې ګډونوالو ته هرکلی ووایه او د کنفرانس پر اهمیت یې رڼا واچوله.

د کنفرانس لومړۍ برخه "د افغانستان-پاکستان اړیکې؛ اوسنی وضعیت او راتلونکی" موضوع ته ځانګړې شوې وه، چې لومړی ویناوال یې دکتور فضل الهادي وزین و او په خپلو خبرو کې په دې ټینګار وکړ، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د ستونزو او فرصتونو ټکي، چې نوموړي اشاره ورته وکړه، باید په څرګند ډول د دواړو لورو له خوا مطرح او حل لارې ورته ولټول شي. د دې برخې بل ویناوال په افغانستان کې د پاکستان پخوانی سفیر ایاز وزیر و، چې نوموړي هم په خپلو خبرو کې د دواړو هېوادونو د اړیکو پر وړاندې شته خنډونو او فرصتونو باندې خبرې وکړې.



د کنفرانس په دویمه برخه کې "په افغانستان کې د سولې بنبست او حل لارې" تر عنوان لاندې لومړی ویناوال په افغانستان کې د پاکستان پخوانی سفیر رستم شاه مهمند او دویم ویناوال یې د ستراتېژیکو او سیمهییزو څېړنو مرکز مشر دکتور عبدالباقي امین و، چې په خپلو خبرو کې یې د افغاني سولې بهیر د بریا لپاره بین الافغاني تفاهم اړین وباله

او ټینګار یې وکړ، چې تراوسه هم د سولې بهیر د ناکامۍ لامل د یوه داسې دریمګړي لوري نشتوالی دی، چې د جګړې ټولو لورو ته د باور او منلو وړ وي.

په دریمه برخه کې هم "په پاکستان کې افغان ګډوال؛ اوسنۍ وضعیت او راتلونکی" تر عنوان لاندې د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز مرستیال ډاکټر وحیدالله مصلح خپله مقاله واوروله او ویې ویل، چې د کډوالو قضیې ته باید د دواړو ټولنو ترمنځ د اوږدمهاله اړیکو په تناظر کې وکتل شي. د کډوالو د قضیې حلولو لپاره یوه داسې ماحول جوړولو ته اړتیا ده چې روښتیا او د یو بل په خوښه اوږدمهاله حل وړاندې کړي او ټولو کډوالو ته د منلو وړ وي.

څلورمه او وروستۍ برخه "د افغانستان-پاکستان اقتصادي اړیکې؛ ننګونې او فرصتونه" موضوع ته ځانګړې شوې وه، چې له افغان لوري د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز علمي غړي انجنیر حامد دوراني او له پاکستاني لوري هم د قائد اعظم پوهنتون استاد دکتور انورشاه خپلې علمي مقالې وړاندې کړې او د دواړو هېوادونو ترمنځ یې د اقتصادي اړیکو پر پیاوړتیا ټینګار وکړ.

د دغه کنفرانس د هرې برخې په پای کې ګډونوالو د بحث د تاوده هرکلي ترڅنګ له ویناوالو څخه خپلې پوښتنې مطرح کړې او پر اړوندو موضوعاتو یې خپل نظرونه وړاندې کړل.

په کنفرانس کې ویناوالو په دې ټینګار وکړ، چې په دواړو هېوادونو کې باید پالیسي جوړوونکي د وخت له ضایع کولو پرته د هراړخیزو خبرو اترو په پیلولو او باورجوړونې لپاره ګامونه پورته کړي، ترڅو له یوې خوا د افغانستان او پاکستان ترمنځ د پیاوړو او تلپاتو اړیکو لپاره لاره هواره شي او له بلې خوا د نړیوالو او سیمه‌ییزو لوبغاړو د هغو ناوړو دسیسو مخنیوی هم وشي، چې د دغو دوو ورونو ملتونو ترمنځ اختلافات اچوي او په خپل ټول توان سره په سیمه کې د تلپاتې سولې او استقرار لپاره هر کوښښ او هڅه له ناکامۍ سره مخ کوي.

د دواړو هېوادونو د اړیکو په تړاو، په لاندې خبرو ټینګار وشو:

- د دواړو هېوادونو ترمنځ باید باور رامنځته شي او د باور جوړونې لپاره باید څرګند او واقعي ګامونه پورته شي؛
- د خبرو داسې ریښتینې پروسه باید پیل شي، چې روښانه موخې او مقاصد ولري؛
- ټولې ستونزې په نښه او پکې شاملې شي؛
- د یو بل ملي ګټو ته درناوی وشي او دا د مېز سر ته راوړل شي؛

د دې ترڅنګ په دواړو هېوادونو کې د پالیسۍ جوړوونکو، رسنیو او روشنفکره پاړکي پر منفي رول هم نیوکې وشوې، چې د افغان او پاکستاني ملت ترمنځ یې کرکه پیدا کړې او په سیمه کې د بهرنیو لورو ګټو ته کار کوي.

د دواړو خواوو ویناوالو پر دې خبرې هم ټینګار وکړ، چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اړیکو په پراخولو کې مدني ټولنې، څېړنیز مرکزونه او تینک ټانکونه مهم رول لوبولی شي. څکه دوی پر پالیسي جوړوونکو او ستونزو سره تړاو لرونکو باندې اغېزه کولای شي. له همدې کبله دا دولت ادارو ته پکار دي، چې په دې برخه کې فعال رول ادا کړي او له یو بل سره د همکاریو پر مټ متقابل تفاهم پیاوړی کړي.

په دغه دوه ورځني کنفرانس کې شویو بحثونو دا پیغام هم له ځان سره درلود، چې ګډه عقیده، تاریخ، کلتور، ژبې او له یو بل سره تړل شوي ټولنیز او اقتصادي حقایق او فرصتونه هغه زمینې او حل لارې دي، چې له مخې یې دواړه هېوادونه سولې ته رسېدلای شي او په ګډه خپل روښانه راتلونکی جوړولای شي.



پای

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس دفتر: 784089590 (93+)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (93+) abdulbaqi123@hotmail.com

داکتر وحیدالله مصلح، معاون مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 747575741 (93+) drwahidm@gmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: 775454048 (93+) hekmat.zaland@gmail.com